**مطبوعاتي اعلاميه**

## تر پانګوال نظام لاندې ژوند نه یوازې بدمرغي ده، بلکې په بشپړه توګه د ځمکې پر مخ د دوزخ بېلګه ګرځېدلې دی

حزب التحریر ـ ولایه کینیا په یاد هېواد کې د اختطاف په اړه اندېښمن دی. د کینیا امنیتي پرسونل له لوري ثبت شوې قضیې ښيي، چې مجرمینو ماشومان او نجونې اختطاف کړي او بیا یې له کورنیو څخه د پیسو غوښتنه کړې ده. په دې اړه انلاین ویډیوګانې خپرې شوې او ښیې چې قربانیان سخت شکنجه او ځورول شوي، په ناوړه حالت کې ساتل کېږي او یوازې ژوندي پاتې دي. په دې برخه کې موږ غواړو د لاندې ټکو یادونه وکړو:

ان که دا قضیې په پراخه کچه رامنځ ته شي او په طبیعت کې وېره رامنځ ته کړي، موږ خلکو ته وایو چې اړینه نه ده، له څېړنې پرته د خبرونو په خپرولو سره نوره هم وېره خپره کړئ. دا د اسلام یو له ژورو لارښوونو څخه ده. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ]**

***ژباړه:*** *اې مومنانو! که کوم فاسق تاسو ته له کوم خبر سره راشي، نو تاسو د خبر په اړه پلټنه او څېړنه وکړئ، هسې نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ سره زیان ورسوئ او بیا په خپلو کړو پښېمانه شئ.*
[حجرات: ۶]

دغه له غمه ډک بهیر، د ماشامونو، نجونو او خلکو له لاسه ورکول او مړه کېدل د کینیایي وګړو د وېرې او اضطراب لامل شوي دي. په دغه هېواد کې د مسلمانو کورنیو په اړه، دا یو اضافي ناورین دی، ځکه کلونه کېږي چې دوی په غیر قانوني او منظمه توګه د کینیایي پولیسو له لوري «د ترهګرۍ پر وړاندې جګړې» په نوم اعدامېږي. دا په دې مانا ده چې په پانګوال نظام کې ژوند کول سرخوږی دی او په بشپړه توګه د ځمکې پر سر د دوزخ بېلګه ده.

د ژوند ستونزې چې په پانګوال نظام پورې اړه لري، په ټولنه کې د داسې شرایطو په شتون سره، ټول منډې وهي تر څو «غوره ژوند» ته لاسرسی ومومي. همدا راز والدین له خپلو اولادونو سره د وخت تېرولو کافي وخت نه لري، ځکه دوی د ژوند پر نورو چارو بوخت دي. په دې سره، موږ غواړو والدینو ته یادونه وکړو، چې ماشومان حق لري په امن کې واوسي، له دوی سره په زړه سوي چلند وکړئ، له ظلم او ناوړه چلند څخه یې وساتئ.

بالاخره وایو، چې دا قضیې نه یوازې په کینیا، بلکې په ټوله نړۍ کې شته. په دې اړه مسلمانان باید خپل مسوولیت درک کړي او د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره کار وکړي او دا یوازینی حکم دی چې د هر ډول زور زیاتي پر وړاندې د محافظت نظام بلل کېږي.

**شباني موالیمي**

حزب التحرير- کینیا مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۲ هـ.ق، د ذي القعدې ۱۸مه

۲۰۲۱م، د جون ۲۹مه

د صدور ګڼه: ۱۳/ ۱۴۴۲